مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۱۱

# څوړنده سر

په یوې خاینې څوکۍ
د میز تر شا ناست یم
له کړکۍ لیرې د شنه اسمان څنډو نه
د غروب ساندې اخلم
پښې مې راټولې کړم
سر مې سینې ته وردننباسم
سوچ وکړم ظلم کوم؟
که ان تر کفره ځمه؟
ولې مې زړه په دې مقام باندې
اوبه لا څښلې نه دي؟
ولې مې لاس تر خیانت نه دریږي؟
او خوله مې سترې له دروغو نه ده؟
څنګه یو دم د وخت جابر ته پاڅم
او خپل عزت مې پښو کې کېږدم ورته
څوړنده ژبې، خلاصې خولې، وحشي څیرې به اخیر
تر څو زما په سر امرونه کوي
زه به تر څو د خپل اختیار په فلسفه نه ځمه
خدایه دروخله دغه څوړنده سر
چې ستا له ذاته پرته بل چا ته
په هر سهار او هر ماښام ښکته شي
دغه مقام د بنیادم نه دی
په دې څوکۍ دې کوم حیوان کېني

---

یادونه: دغه کرښې مې د ۲۱/۹/۲۰۲۲ نیټې په مازدیګر کې د چارواکو او حکومتي چاپلوسانو په اړه ولیکلې. د هغه چا په اړه چې بیخي تري پوزې ته راغلی وم او هره شیبه به یې بې غیرتی ته ژړېدم.
سمسور
سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ